## د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون :

## د هغو نوماندانو په هکله چې تر دې مهاله يې له خپلو دندو استعفا نه ده ورکړې لسګونه شکايتونه ثبت شوي دي.

د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون وايي چې دير ژر به د ولسي جرګې هغو نوماندانو په هکله ،چې تر دې مهاله يې له خپلو رسمي دندو څخه استعفا نه ده ورکړې ،خپله پريکره اعلان کړي .

د نوموړي کميسيون غړی او وياند احمد ضيا رفعت د زمري په دريمه د يوې مطبوعاتي ناستې په ترڅ کې اعلان وکړ ،چې د ټاکنو قانون د ۱۳ مادې پر بنسټ نوماندان بايد د نوم ليکنې وړاندې د خپلو دندو څخه استعفا ورکړې. خو د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون داسې شکايتونه تر لاسه کړي چې يو شمير نوماندانو په ټاکلي وخت کې له خپلو دندو استعفا نه ده ورکړې او يا هم تر دې مهاله خپلو رسمي دندو ته دوام ورکوي.

د غه شکايتونه د ټاکنيزو شکايتونو د کميسيون لخوا تر څيړنې لاندې دي . که چيرې په ډاګه شي ،چې دغه شکايتونه صحت لري ،ددغه انتخاباتي سرغړونې تورن نوماندان د ټاکنو د قانون د ۱۳ مادې سر غړونکي ګڼل کيږي.

ښاغلی رفعت وايي که چيرې دغه سرغړونکي نوماندان په ګوته شي د ټاکنو قانون د ۶۴ مادې پر بنسټ د نوماندۍ د حق څخه بې برخې کيږي.

د يادولو وړ ده ،چې د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون د ټاکنيزو مبارزاتو له پيل څخه تر دې مهاله ۲۷۶ شکايتونه تر لاسه کړي دي .